# په يوم اقبال د اجمل خټک تاريخی نظم

# The Historical Poem of Ajmal Khan Khattak on Iqbal Day

Fazli Azim Azim*

**Abstract:**

This historical poem of Ajmal Khattak has been written on birth day of Allama Iqbal in Nineteen fifty seven. In this article, a historical poem of Ajmal Khattak will be discussed and anaysed but in the context of this poem, the reservations of Khushal Khan Khattak, the analysis of the work of Khushal khan by Allama Iqbal similarly by the praised work produced by Ajmal Khattak in respect of Khushal Khan Khattak and Allama Iqbal will also be discussed in depth. This poem has been read in the provincial Assembly of Khber Pakhtunkhwa. This poem is so wide in meaning and explanation that even a Ph.D thesis can be produced on this Poem.The topic of this Poem is (Az zia-e-rohe Afghani beturs). از ضياء روح افغانی بترس

**Key Words:** Ajmal Khattak, Allama Iqbal, Khushal Khan Khattak, Az zia-e-rohe Afghani beturs

« د اجمل خټک دا تاريخی نظم د ډاکټر علامه محمد اقبال د زېږېدنی د ورځې په وياړ ليکلے شوے دے .په دې ليکنه کښې په يوم اقبال د اجمل خټک بابا تاريخی نظم څېړل کېږی خو د دغه نظم په رڼا کښې د افغان اولس په باب د خوشحال بابا ګيلې، د علامه اقبال (رح) لخوا د خوشحالياتو په ځير څېړنه، د افغان اولس سره مينه او دغه شان د اجمل خټک بابا د خپل نيکه خوشحال خان بابا او پښتون اولس په باب نۀ يوازې د علامه محمد اقبال د فارسۍ د شعرونو بلکې د ختيځ د دغه ستر او سترګه ور شاعر د ټولو شعرونو ژوره مطالعه ډاګينه شوې ده. د نظم په هر شعر کښې د علامه اقبال د شعرونو موضوعات جوت او ښکاره دی. هره موضوع هم د تاريخ برخه ده. دا نظم د اجمل بابا د خپلې ليکنې د مخه په نولس سوه اووه پنځوسم زيږديز کال کښې د پښتونخوا په پېښور اسمبلی هال (د ولايتی شورا په هال) کښې اورول شوے دے. د اجمل خټک بابا دا نظم دومره جامع دے چې يو سکالر ( د پی ايچ ډی

* Ph.D Scholar Department of Persin UOP

محصل) پرې ډېر کار کولے شي. خو په دې مقاله کښې د لیک د اوږدېدو له وېرې د لنډيز (خلاصې) نه کار اخستے شوے دے. د نظم عنوان هم د علامه اقبال د فارسۍ د شعر یوه مصرعه ده چې داسې ده. (از ضیاء روح افغانی بترس).» (۱)

لکه څنګه چې افغان اولس تل د شاعرانو د ځانګړې پام وړ ګرځېدلے دے. په تېره بیا د سترو سترګه ورو شاعرانو لخوا ورته په ځير او ځانګړے پام شوے دے. افغان اولس که یو خوا د سترو تاریخي کارنامو او اتلتوبونو لرونکے دے. نو بل خوا دا اولس چرته هم د یووالي له مېوې برخمن شوے نۀ دے. او چې کله هم یو لاس یو موټے شوے دے نو بیا یې کله ګورجین خاني د هرات په ښار کښې د زمکې لاندې کړې ده، کله یې د شېرشاه سوري په مشرۍ کښې د بابر نه د پښتون وطن تروړلو په غرض د هغه خپل زوے همایون د ایران په لوري تېښتې ته اړ کړے دے. چې د یووالي په پړي یې منګولې لګولې او رایو شوي دي نو بیا ورله د اصفهان د ښار نه د ایران د باچایۍ تخت خېمو ته راوړل شوے دے. د یووالي له برکته پښتون لښکر یا افغان لام د افغان اولس د بنسټګر احمد شاه بابا په مشرۍ د هند د «پاني پت» په جنګي ډګر کښې بلوسګرو او ظالمانو مرهټیانو ته داسې کلکه ماتې ورکړې ده چې تر ننه یې سر نۀ دے پورته کړے. احمد شاه بابا په دغه بری خپل ټاټوبے نۀ دے هېر کړے. د پښتونخوا غرونه یې په زړه وربېدل او ځکه یې د ډیلي تخت هېر کړے دے. لکه چې وایي:

د ډیلي تخت هېرؤمه چې رایاد کړم
زما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه (۲)

د افغان یا پښتون نه چا هم د تورې په زور د واکوالۍ تخت نۀ دے تروړلے. خو د پښتنو یا افغانانو د بې اتفاقۍ په توره تل ژوبل شوي، دړې وړې شوي او باچایۍ یې د لاسه ورکړې دي. په هم دې دلیل ستر خوشحال خان خټک د پښتنو په بې اتفاقۍ تل ټکونه کړي دي. د دوي د یووالي ارمان یې ژړلے او په زړه کښې ګرځولے دے. د شعر په ژبه یې د خواشینۍ څرګندونه داسې کړې ده لکه چې وایي:

هره چار د پښـــــتانه تر مغل ښه ده
اتفاق ورســـــره نشـــته ډېر ارمان
کۀ توفیق او اتفاق پښـــــتانۀ مومي
زوړ خوشحال به دوباره شي په دا ځوان (۳)

د پښتو متل دے چې ګیله له خپلو کېږي. هم دغه خپلوی ده چې خوشحال بابا کله پښتنو ته په نۀ یوکېدو بدې ردې وايي یا ګیله کوي نو داسې خپله غصه ښکاره کوي او وايي:

پښتانه په عقل پوهه ډېر ناکس دی
کوته سپي د قصابانو د جوس دی
اوښ له باره سره کور ته دے ورغلے
په ولجه د اوښ د غاړې د جرس دی (۱)

علامه اقبال (رح) د خوشحالیاتو په ځیر سره داسې مطالعه او لوسته کړې ده چې د هر لوستونکی دا ګمان راځي چې اقبال په ټول ژوند کښې یوازې هم د خوشحال بابا لیکنې او شعرونه لوستي وي. ډېر شعرونه یې دا ډاګینوي چې د خوشحال خان بابا د اولس د یووالي په غرض ځومره زیار ایستلے او ګاللے دے. او یو نیم ځاې کښې خو داسې لګي لکه د خوشحال بابا د شعرونو یې هو بهو ژباړه کړې وي. علامه اقبال د خوشحال بابا د پښتنو نه د ګیلې غږ له په خپلو شعرونو کښې ځومره ښکل رنګ ورکړے دے. د ستر خوشحال خان بابا دغه د ګیلې او پښتنې سختې لهجې نه ډک شعرونه یې د فارسۍ په شعرونو کښې داسې بیان کړي دي چې ړومبے یې د خوشحال بابا ستاینه کړې او بیا د هغه شعر ته داسې جامه اغوندوي:

خوش سرودآن شاعرافغان شناس + آنکه بیند' بازگویدبی ہراس
آن حکیم ملت افغانیان + آن طبیب علت افغانیان
راز قومی دید و بی باکانه گفت + حرف حق باشوخی رندانه گفت
اشتری یابد اگر افغانِ حُر + بایراق وساز و باانبار دُر
ہمت دونش ازآن انبار دُر + می شود خوشنود بازنگِ شتر (2)

په دغه شعرونو کښې دا وروستی دوه شعرونه هو به هو د خوشحال بابا د دې شعر ژباړه ښکاري چې وايي:

اوښ له باره سره کور ته دے ورغلے په ولجه د اوښ د غاړې د جرس دی

د علامه اقبال په فارسۍ شعری ټولګه جاوېد نامه کښې هم ډېر شعرونه د افغان اولس، افغانستان، او افغانانو د مشرانو او شاعرانو په باب دی. ښه په ډاډه زړه ویلے شو چې دا شعرونه د علامه ډاکټر محمد اقبال په جاوید نامه کښې په کومه موضوع او چرته لیکل شوی دی (۳)

ځکه خو مونږ که وايو چې علامه اقبال د خوشحاليا تو په ځير لوسته کړې ده نو دا خبره بې ځايه نۀ ده. ډاکټر علامه اقبال د خوشحال خان د پښتنو دغې بې اتفاقۍ ته په پام کولو سره د خوشحال بابا ګيلې له په خپلو شعرونو کښې ځاي ورکړے دے. د علم او فن په ځانګو غزنې او د اتلانو په مرغزار او هيواد داسې خواښينې څرګندوي چې وايي:

آه غزنی آن حریم علم و فن + مرغزارِ شیر مردانِ کہن (4)

يا دا د فارسۍ شعر چې وايي:

در جہان آوارہ ای بیچارہ ای + وحدتی گم کردہ ای صد پارہ ای (5)

دا شعرونه د علامه اقبال په باب زمونږ دا دعوه کوټلې او غښتلې کوي چې علامه ثومره په ځير د خوشحال خان بابا د شعرونو لوسته کړې ده. زړه ته يې پرې اېستې دي. نو اجمل خټک بابا هم دغه شعرونه په علامه اقبال باندې په خپل مشهور تاريخي نظم کښې چې د علامه اقبال د فارسۍ د شعر د يو بيت عنوان يې ورله ورکړے داسې ليکي:

زما د قبيلو نفاق چې وينې نو خفه شې

دے ژاړې چې زما د وحدت سنګ پاره پاره شې (٦)

يا دا چې کله علامه اقبال رحمت الله عليه د سيد جمال الدين افغان د ستاينې په غرض کوم شعرونه ليکلي دي نو په يو شعر کښې يې داسې وايي :

میر خیل! از مکر پنہانی بترس از ضیاء روح افغانی بترس (7)

اجمل خټک بابا د علامه اقبال د دغه شعر وروستې بيت ته په علامه اقبال باندې د ليکلې خپل مشهور نظم عنوان ورکړو. د علامه اقبال لخوا د افغان اولس په حقله د ليکلو شعرونو په غور د مطالعې نه وروسته يې خپل خيالات په هغه کتاب کښې چې د دوی د زېږېدو د اتيايمې کليزې په درناوی کښې د افغانستان د لوړو زدکړو د وزارت لخوا خپور شوے او د دوی خپله مقاله په کښې هم تر دې سرليک لاندې "زما د زوکړې د اتيايمې کليزې په علمی سمينار کښې زما وينا" چاپ شوې ده، داسې څرګندونه کوی: «کله چې د دغه سمينار په باب ما ته خبر راکړل شو او په زړه کښې مې ووېل چې په دغه سمينار کښې به برخه اخلم او د خپل خيال څرګندؤنه به په کښې کوٶم نو ورسره خوخت مې په زړه او ککرۍ کښې د سيمې او نړۍ د راتلونکې، د افغانستان د روانو چارو او د دغه هيواد د کشالو او ستونزو په حقله فکرونه او څه ارمانونه او هيلې راپېدا شوې او د علامه اقبال دا شعرونه را په ياد شول چې وايي:

اسیا یک پیکر آب و گل است + ملت افغان در آن پیکر دل است

از کشاد او کشاد اسیا + از فساد او فساد اسیا

او ما چې د دغه شعرونو د معنې په بنسټ د افغانستان او سیمې په تاریخ نظر ؤزغلولو، نو د علامه اقبال دغه شعرونه سل په سلو کښې سم او کره ثابت شول» (۸)

په جاوید نامه کښې دغه فارسي شعر داسې لیکلے شوے دے.

از فساد او فساد آسیا + در کشاد او کشاد آسیا (9)

اجمل بابا هم دې نتیجې ته رسېدلے د چې په رښتیا علامه اقبال څه هم ویېلی دی هغه خبرې اوس راښکاره کېږي. ځکه خو اجمل خټک بابا په علامه اقبال باندې په خپل لیکلی نظم کښې ډېر په ویاړ داسې وایي:

زما په ابادۍ د ایشــــیا ټولې ابادی ده

زما په بربادۍ د ایشــــیا ټولې بربادی ده (۱۰)

دا شعر خو هم هو به هو د علامه اقبال د فارسۍ د شعر داسې ژباړه ښکاری لکه څنګه چې علامه اقبال د خوشحال بابا د ځینو شعرونو ژباړه په خپلو فارسي شعرونو کښې کړې ده. اجمل بابا د دغه احسان بدله په څو څو چنده ګرځولې ده او پوره تاریخي نظم یې ؤلیکلو او دا پورتنے د پښتو شعر خو بیخي د علامه اقبال د ذکر شوي فارسي شعر ژباړه ده.

از فساد او فساد اسیا + در کشاد او کشاد اسیا

یا د علامه اقبال دا پورتنے شعر چې وایي:

اسیا یک پیکر آب و گل است + ملت افغان در آن پیکر دل است

ځکه اجمل بابا وایي:

که زۀ د خیبر سیوری کښې د مړو غونډې اودۀ یم

خو دے وایي چې نا زۀ د تمامې ایشیا زړۀ یم

اجمل خټک بابا د خپلې دغې مقالې په پاې کښې د خپلو احساساتو داسې څرګندؤنه کوي:

« په پاې کښې د افغانستان د اولس مشر او خپل ګران ورور حامد کرزی او د دې هېواد د لوړو زدکړو د وزارت مننه کوم که دا سمینار یې جوړ کړ او د هاغه ټولو لیکوالو او شاعرانو هم مننه کوم چې خپلې لیکنې یا شعرونه به په دې سمینار کښې لولی. دغه راز په دې سمینار کښې د ټولو حاضرینو مننه کوم چې زما د ډاډګېرنې او هڅولو په غرض یې دلته

تشریف راوړ او په دې ناسته کښې یې ګډون وکړ. په خپل یو شعر دا وېنا پاې ته رسؤم. په دې ورځو کښې دا شعر په دې خاطر وایم چې په دې اوسنی وخت کښې دغه شعر د خپلې ملی راتلونکې چغه ګنم.

زما د نیکه کور او ورور به خداې کا یو صلا شی
د وینو په دې ډنډ کښې به یو نوے ګل پېدا شی
په درنښت: اجمل (۱۱)

اوس د اجمل خټک بابا د یوره نظم ځینو تاریخ حوالو له هم راځو چې په دغو شعرونو کښې د علامه اقبال کوم خیال او شعر ته اشاره شوې ده. دغه نظم مونږ د غیرت چغه نومې کتاب نه رااخلو. چې عنوان یې دے. از ضیاء روح افغانی بترس:

(دا نظم د یوم اقبال د ۱۹۵۷ء د پېښور اسمبلی هال کښې لوستے شوے دے)

اقبال چې د فطرت د هنګامو سره آشنا دے
اقبال چې د وختونو د نبضونو نه آګاه دے
حکیم چې زمانې تلی په فکر او په خیال
دانا د ملتونو په عروج او په زوال
حکیم چې د انسان د نفس رازونه یې تلی کښې
قومونه، د قومونو تقدیرونه یې تلی کښې

په دې شعرونو کښې د علامه اقبال د لوړ فکر لوری ته اشاره شوې ده. ځکه چې د دغه ستر شاعر د شعرونو ځینې وړاند وینې (پیشګویانې) نن مونږ ته ډاګینې شوی دی. لکه د افغان اولس په بې اتفاقۍ چې علامه اقبال خومره د اندېښنې څرګندؤنه کړې ده. یا یې د ایران د پلازمینې (پاېتخت) په باب د اردو ژبې کوم شعر ویېلے دے. چې دلته یې د بېلګې په توګه راولو.

*تہران ہو اگر عالم مشرق کا جنیوا*
*شاید کرۂ ارض کی تقدیر بدل جائے* (15)

پښتو ژباړه یې څه داسې کولے شو:

تهران که جنېوا شی د ختیځ د دې جهان
کېدے شی چې برخلیک یې بدلون وکړی په یو آن

اوس پاتې شونے ټول تاريخي نظم د ببلګې په توګه وړاندې کوم چې زما يادې شوې دعوې تر کوم ځايه غښتلې او کوټلې دی؟

دانا چې د حيات د فلسفې په زړه او زور دے
د ژوند د تقاضو د هرې پېښې نه خبر دے
اقبال چې د الحاد تيارو ته زېړے د ايمان دے
اقبال چې په اصلي معنو کښې پلار د پاکستان دے

په دغه شعرونو کښې د علامه اقبال هغه خوب ته پام ګرځول کېږي چې د پاکستان جوړېدلو د پاره يې ليدلے وُ.

هغه په خپل رسا نظر زما په لور کتلي
زما روح کښې اخښلي سره بخري يې ليدلي
زما په اسوېلو کښې د تاوونو نه آګاه دے
زما خړو خولو کښې طوفانونو نه آګاه دے
شهباز چې يې د سترګو د لمبو نه په شا زغلي
زما په دې درو کښې داسې زرکې يې ليدلي

خراج چې تل اخلي د پړانګانو، د زمرو نه
مېږې دی زما ډکې د دې هسې شان هوسو نه
ليدلي يې دی هغه د غېرت نه ډک مړونه
چې تل يې اچولي دی په ستورو کمندونه
چې ګرد نه د مغل د سورو بچ ساتي تل ځان
قابل دے په غېرت زما د هغه خوشحال خان
هندوان چې ويروی د چا د نوم نه ماشومان
قابله دے د هغهٔ روهېليانو په ايمان
تصوير يې دے ليدلے د پښتو د ننګ او پت
په نوم د محراب ګل ترې خبروی اودهٔ ملت

په دې شعرونو کښې د خوشحال بابا او افغان اولس په باب هغه شعرونو ته اشاره ده چې علامه اقبال ویېلې دی.

*قبایل ہو ملت کی وحدت میں گم + کہ ہو نام افغانیوں کا بلند*

*محبت مجھے ان جوانوں سے ہے + ستاروں پہ جو ڈالتے ہیں کمند* (16)

کۀ زۀ د خېبرسېوری کښې د مړو غوندې اودۀ یم
هغه وایی چې نه زۀ د تمامې ایشیا زړۀ یم
زما په ابادۍ د ایشــــیا ټولې ابادی ده
زما په بربادۍ د ایشــــیا ټولې بربادی ده

په دې شعرونو هم بره ښه تفصیلي بحث شوے دے. چې زیاتی بحث ته اړتیا نۀ لیدل کېږي.

زما بېداربدو ته اقبال خپله ترانه شی
زما د ننگ بخری یې پوکلی چې لمبه شی
خبر یې په دردونو د دې خپل سوی گوگل کړم
زما په غم شریک دے چې یو اور ورباندې بل کړم
چې جوړې یې گنبد کښې د تاوونو غلغلې کړم
چې بیا یې په رگونو کښې برخېره زلزلې کړم
چې ؤشلوی لحد او کفن خیرې کړی گویا شی
پټ سترگې زمانې ته په غصه شی په وېنا شی
زما د روح د پاکو تقاضو نه یې خبر کړی
د دې پردې د لاندې زلزلو نه یې خبر کړی (۱۷)

لکه څنگه چې افغان اولس او اتل شاعر خوشحال خان بابا د علامه اقبال د پام وړ گرځېدلے نو دغه شان اجمل خټک بابا هم د علامه اقبال د فارسۍ شاعری د ځانگړی پام وړ گرځولې او په خپل دغه تاریخی نظم کښې یې ورته بلها اشارې کړی دی. په ښه توگه یې څېړلې او بیان کړې ده. د خوشحال بابا، علامه اقبال او اجمل خټک بابا په روحونو سلام. یوازې زما نۀ د پښتنو د پوره قام.

## کتابونه او حوالې:


(۱) - خټک، اجمل- کال ۲۰۰۷ - د غېرت چغه- یونیورسټی بک ایجنسی خیبربازار - پېښور مخ: ۱۲۱

(۲) - بابا احمد شاه، موحد مومن، تدوین او ترتیب، کال ۱۳۹۲ لمریز ۲۰۱۳ زېږدیز، دویم چاپ - د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکی څانګه - کابل مخ: ۲۹۱

(۳) - حنیف خلیل، ډاکټر- نظرثانی، سحرګل سحر کتوزئ، ستمبر ۲۰۱۲ دویم ایډیشن، د خوشحال مطالعه، دوېمه پرچه، یونیورسټی پبلشرز افغان مارکیټ قیصه خوانی بازار پېښور مخ: ۲۴۷

(۴) - خټک – مغموم یارمحمد - ۲۰۱۲ - مقدمه د خوشحال بابا کلیات یونیورسټی بک ایجنسی - پېښور- مخ: ۱۲۰، ۱۲۱

(۵) - هاشمی حمیدالله شاه پروفسور- بې تاریخه - شـرح کلیات اقبال مکتبه دانیال - لاهور - (جاوېدنامه) مخ: ۸۴۲

(۶) - علامه، محمد اقبال، چاپ ۱۱ - جاوید نامه - اګست ۱۹۸۲م شیخ غلام علی اینډ سنز لاهور - صفحه: ۱۷۷

(۷) هاشمی حمیدالله شاه پروفسور- بی تا - شـرح کلیات اقبال مکتبه دانیال - لاهور - مخ: ۹۲۲

(۸) - همدغه کتاب - مخ: ۹۲۷

(۹) - خټک اجمل - د چاپ کال ۲۰۰۷ - د غـېرت چغه - یونیورسټی خیبربازار پیښور، صفحه: ۱۲۳

(۱۰) هاشمی حمیدالله شاه پروفسور- بی تا - شـرح کلیات اقبال مکتبه دانیال - لاهور - مخ: ۹۲۷

(۱۱) - د افغانسـتان د لوړو زده کړو وزارت - ۱۳۸۲ ل - د اجمل خټک یاد - کابل - مخ: ۱۸

(۱۲) علامه، محمد اقبال، چاپ ۱۱- جاوید نامه - اگست ۱۹۸۲م
شیخ غلام علی ایند سنز لاهور - صفحه : ۱۷۸
(۱۳)- خټک اجمل - د چاپ کال - ۲۰۰۷ - د غېرت چغه -
یونیورسټی خیبربازار پیښور، صفحه : ۱۲۳
(۱۴)- د افغانســتان د لوړو زده کړو وزارت - ۱۳۸۲ ل -
د اجمل خټک یاد - کابل - مخ : ۲۰
(۱۵) - قزلباش دکتر علی کمیل- مدیر اعزازی - شماره ۵۳- ۵۴ آوریل تا
سپتامبر ۲۰۱۳ میلادی- رایزنی فرهنگی سفارت جمهوری اسلامی
ایران - اسلام آباد صفحه: ۳۹
(۱۶)- اعوان، ظهور احمد ، ډاکټر - اقبال اینډ افغان - پی ایچ ډی مقاله
صفحه: ۴۰۷ او حواله د علامه اقبال بال جبریل –صفحه: ۱۵۴
(۱۷) خټک اجمل - د چاپ کال - ۲۰۰۷ - د غــېرت چغه
یونیورسټی بک ایجنسی خیبربازار - پیښور،
مخونه : ۱۲۱، ۱۲۲، ۱۲۳